لیکوال او شنانд: نظرمحمد مطمئن

۲۴ می ۲۰۱۵

## د پاک - افغان استخباراتي هوکړه او اندیښنې

د پاکستان له جوړښت ۱۹۴۷ز کال راهیسي د دوو ګاونډیو هیوادونو تر منځ ستونزې شته، لویه ستونزه د ډیورنډ او پښتونستان مسئله ده

تیرو افغان او پاکستان حکومتونو هیڅکله هم د دواړو هیوادونو د ستونزو د حل او کمولو په موخه کومه منطقي تګلاره تر کار لاندې ونه نیوله او نه یې هم له خپلو ولسونو سره شریکه کړه.

دا دول تیرو افغان حکومتونو د پاک – افغان اړیکو اړوند کوم ځانګړی موقف نه درلود، نه یې پخواني ولسمشر کرزي او نه یې ولسمشر غني لري.

دواړو هیوادونو د ویرې او ډار تګلاره په تیرو وختونو کې خپله کړې، او دغه تګلاره د کرزي په وخت کې همداسي پاتې شوه، دا دول د ګډ حکومت په راتګ سره هم کوم منطقي حل لاره او یا کوم ځانګړی موقف د دواړو هیوادونو د راتلونکو اړیکو اړوند نه تر سترګو کیږي، بیا هم د یادو هیوادونو استخباراتي لوبه ده، چې هیڅکله به ګټونکی ونه لري، لکه چې په تیرو نږدې ۶۸ کلونو کې یې ګټونکی معلوم نه شو او نه هم ترینګلتیا ورکه شوه.

داخبره هم سمه نه ده چې ځینې افغان سیاستوال وایي ترڅو چې د پاکستان آی ایس آی او د پاکستان افغان ضد تګلاره وي، افغانستان به ارام نه شي، دغه خبرې دي چې افغانان او پاکستانیان دواړه لوري مایوس کوي.

زما په آند د پاکستان ملت (نه چاروکي او استخبارات) دا دول افغان ملت ( نه چاروکي او استخبارات) دواړه ملتونه غواړي چې په ګډه د خوشالي او ارامۍ ژوند ولري، د هجرت پر مهال د پاکستان د عوامو خواخوږي له هیچا پټه نه ده، ولي استخباراتي لوبه د ولس له واکه پورته ده.

په کار ده چې د پاک – افغان اړیکو اړوند ستراتیژک فکر وشي، د دواړو هیوادونو غوښتنو او اندیښنو ته په پام کې نیولو سره یوه منطقي تګلاره جوړه شي، او د ددواړو هیوادونو ولسونه او چاروکي د ستونزې د حل له پاره واضیح موقف خپل کړي، اوس مهال خو د ولس له خوښې پرته دواړه لورې خپلي استخباراتي موخې مخته وړي.

### د ډیورنډ جنجالي لیکه

د پاکستان ګردو پوځي او ملکي حکومتونو په تیر وخت کې هڅه کړې چې پر افغانستان باندي د ډیورنډ لیکه ومني، که څه هم دغه لیکه امریکا او بریتانیا د سرحد په نوم کاروي، خو د لیکي دواړو لورو ته د پښتنو شتون ددغي جنجالي لیکي منل د نړیوالو له پاره ستونزمن کړی دی.

څومره چې زه معلومات لرم، د پاکستاني چارواکو غوښتنه داده چې دغه ستونزه نوره باید حل شي، جنرال ضياء الحق دهمدې موخې له پاره سرګردانه و، نواز شريف او پرويز مشرف په همدې ارمان شپې او ورځې سبا کوي.

کله چې د پاک – افغان ترمنځ دغسې يوه لويه ستونزمنه مسئله شتون ولري، حتمي ده چې ددواړو هيوادونو اړيکې تر سيورې لاندې راولي او نه پرېږدي چې ياد هيوادونه دی يو بل ته د اړيکو په رغولو او استخباراتي معلوماتو شريکولو کې رښتوني وي.

## د آی ايس آی او ملي امنيت هوکړه او انديښنې

تيره اونۍ د آی ايس آی او ملي امنيت ترمنځ د هوکړه ليک خبره د رسينو د سر خبر و، کورنۍ او ټولنيزې رسنۍ پر همدې مسئله بوختې وې، د پخوانی ولسمشر کرزي ، د مشرانو جرګې او ولسي جرګې غبرګونونه يې راوپارول، د امنيت شورا د مشر حنيف اتمر او د ملي امنيت د مشر رحمت الله نبيل ترمنځ د شخړو خبرونه رسنيز شول، پايله داچې ولسمشر غني اړ شو چې د پخوانيو مجاهدينو او ځينو افغان مشرانو نظر له ځان سره ولري او د آی ايس آی سره د نښاني شوې تړون اړوند وضاحت ورته وړاندې، د مشرانو نيوکې او نظرونه له ځان سره ولري.

ياد تړون د افغان حکومت خوښه نه بلکه د امريکا او بريتانيا غوښتنه ده چې له پاکستان سره به کيږي، لږ موده به يې ولسي جرګه او مشرانو جرګه او ځيني نور افغانان مخالفت کوی، مګر پايله داچې د امريکا او بريتانيي سفارتونه به دهغوئ خولې بندې کړي.

کله چې وکيلانو او سناتورانو د امريکا او افغانستان ترمنځ امنيتي تړون تايداو، هلته يې ولې دې مسئلې ته پام نه و، هغه تړون کې هم راغلي چې د ګاونډيو هيوادونو ترمنځ جنجالي مسئلو ته د حل لاره پيداکول او حل يې اړين کار دي.

کله چې حضرت صيب ارګ ته ننوتی، د پاکستان د هغه وخت لومړی وزير نواز شريف له د پيسو له چيک سره کابل ته راغی، د کمونستي دولت د پاتې شونې اردو د داغام او له منځه تلو سربيره د نواز يوه غوښتنه داهم وه چې افغان حکومت دې هغه لسټ پاکستان ته په واک کې ورکړي چې کوم کسان د ډيورنډ د پاکستان لور له پېښور او کويټې څخه په کابل کې له خاد سره اړيکې درلودلې، ويل کيږي د دغو کسانو لسټ ډاکټر نجيب سوځولي او يا خو شورويانو له ځان سره وړي و، ځکه د پاکستان استخباراتو تر لاسه نه کړل.

په تيرو ۱۳ کلونو کې د هيواد په جنوبي ولايتونو ځانګړې ډول کندهار او هلمند کې د پاکستان د غاړې د بلوچو موضوع هم مهمه ده چې تور لګول کيږي په افغان خاوره کې د هند د استخباراتو په مرسته د پاکستان ضد روزنه ورکول کيږي، او په افغانستان کې پټنځايونه لري.

پخواني هغه کمونستان چې اوس هم په افغان استخباراتو کې دنده لري، او لاهم د پاکستان سره د شوروی د وخت په څير ستونزه او نفرت لري، د هغوی هويت او لستونه هم تر دې مهاله له پاکستان څخه پټ دي.

هڅه به کيږي چې د هغو قبايلو (ډيورنډ ليکې پاکستان لورته) لستونه پيداشي چې په تيرو نږدې ۴۰ کلونو کې يې د افغانستان استخباراتو سره کار کړي.

افغان څيرونکو ته تر ډيره د ازادي غوښتونکو نا تعريف شوی جملې د انديښنې وړدی، چې هدف به ورڅخه، پښتون، بلوچ، سندی او يا هر هغه څوک وي چې د پاکستان د تګلارو په وړاندې ږغ پورته کوی، پرته له دې چې دافغانستان ګټو ته پکې نظر وشي، دغه ډله به د دواړو هيوادونو له خوا په ګډه ځپل کيږي.

د آی ايس آی سره د ملي امنيت هوکړه به روسيه، هند او ايران وننګوي، ياد هيوادونه چې د افغانستان په استخباراتو کې ژورې ريښې لري بې غبرګونه به پاتې نه شي.

روسانو خو وار له مخه ډېر کار کړي، ایران د مجاهدینو له کامیابي وروسته تر نن ورځې د افغانستان په استخباراتو کې د افغان ایراني جاسوسانو د ننوتلو او ځای پر ځای کولو هڅې کړې او کوي، او په تیرو ۱۳ کلونو کې په دی برخه کې غوښنه لاسته راوړنه لري.

هند هم په تیرو ۱۳ کلونو کې د افغانستان استخباراتو ته لاسرسی درلود، او کار یې کړی، له دې ها خوا یې په کندهار، هلمند، جلال آباد، خوست او پکتیکا کې د پاکستان سره پر پوله نږدې هم نفوذ کړی، خپل ځیني جاسوسان به یې پیداکړي وي، او په تیرو ۱۳ کلونو کې د ډیری افغان محصلینو هند ته تګ هم د اندیښنې وړ ګڼلای شو.

د آی ایس آی سره تړون به پاکستان استخبارات دا هڅه هم کوي چې د ایران او هند جاسوسانو لسټونه که وتوانیږي ځانته معلوم کړي، ځکه پاکستان له هند سره اوږده دښمني لري او له ایران سره هم په سرحدي سیمو کې د شخړو او وژلو خبرونه ورکول شوي دي.

پاکستان به د هغوی پاکستاني طالبانو په لسټ پسې هم لالهانده وي چې په افغانستان کې اوسیږي، او تر ډیره په ختیځ کې د پاکستان اهداف په نښه کوي، چې ویل کیږي مشري یې ملا فضل الله کوي.

دا ډول پاکستان به هڅه وکړي چې د هغو پښتونو سرحدي قبایلو لسټ پیداکړي چې د ډیورنډ پاکستان لورته میشت دی، او د هند د استخباراتو سره اړیکې لري.

هغه افغان مهاجر چې پاکستان کې لاهم د کډوالي ژوند کوی، او ممکن ځیني یې په تیرو ۱۳ کلونو کې له د افغانستان دننه کسانو په مټ د هند له استخباراتو سره اړیکې جوړې شوې وي، دهغوی لسټونه پیداکول به هم ددوی لومړیتوب کې وي.

مهمه داده هغه افغان چارواکي چې له هند دولت او یا هندي استخباراتو سره یې اړیکې ښې وي، پاکستان به هڅه وکړي چې دهغوی اړوند هم پوره معلومات ترلاسه کړي.

افغانستان چې د نړۍ بیلابېلې جاسوسي شبکې پکې فعالې دي، او ځیني چارواکي یې د نورو هیوادونو سره نږدې اړیکې لري، د کومو خلکو لسټ به له پاکستان څخه وغواړي. طالبان او اسلامي حزب خو معلوم دي.

طالبان چې نه ویزه لري، نه پاسپورټ لري، نه هم اوس مهال کې د افغان حکومت د هویت پانه کاروي، مګر ځیني یې د امنیتي ستونزو د مخنیوي له امله کاروي، دغسي ورک خلک چې هیڅ نه لري، ټلفون یې ثبت نه دی، تذکره یې ثبت نه ده، پاسپورټ یې ثبت نه دي، له انټرنیټ څخه کار اخستل یې ثبت نه دي، موټر یې پلیټ نه لري، د جنګ او حکومت ضد فعالیت پر مهال کوم ځانګړی یونیفورم نه لري، د ژوند کولو ځانګړی ثابت ځای نه لري، په دغسي یو حالت کې به د پاکستان استخبارات د افغان ملي امنیت ته د طالبانو اړوند څه ډول معلومات ورکړي؟

که پاکستان د طالبانو د پټنځایونو اړوند او یا د طالبانود مشرانو اړوند معلومات ورسره شریکول غواړي، نو داخو یې دا تیر ۱۳ کاله له امریکا او نړیوالي ټولني سره وکړل، آیا کومه روښانه نتیجه لري؟

## افغان استخبارات له روسي سیسټم نه امریکایي او بریتانوي سیسټم ته

د روسانو وخت کې جاسوسانو ته په تاشکند او روسیه کې روزنه ورکول کېدله، اوس به هڅه کیږي چې افغان جاسوسانو ته په پاکستان او یا نورو لویدیځ پلوه هیوادونو کې روزنه ورکول شي، لویدیځ استخباراتي تګلاره خپل بېل لومړیتوبونه لري، او شرقي استخبارات بېل لومړیتوبونه لري

په تیرو ۱۳ کلونو کې ځیني سیاستوالو استخباراتي روزنه په بریتانیا، فرانسه، امریکا او جرمني کې وکړي، بریتانیا تر ډیره پر هغو افغانانو فوکس وکی چې دهغوی نیکونو د انګلیس افغان جګړو پرمهال انګلستانو ته جاسوسي کړې

وه او یا خو یې له انګریزانو سره په هغه وخت کې مرسته کړې وه، د ګډ حکومت په اوسني جوړښت کې د بریتانیې نفوذ د امریکا په خوښه له ورایه ښکاري.

هغه پخواني کمونستان چې د ډاکټر نجیب الله د حکومت له سقوط وروسته یې لویدیځ ته پناه یوړه، لویدیځ پرې سرمایه ګذاري وکړه، دهمدې ډلې په مرسته امریکا او بریتانیا د پاکستان په واسطه به هڅه کوي چې د افغانستان د استخباراتو تشکیلاتو او جوړښت کې بدلون راولي.

روسي سیستم نه امریکایي سیستم ته د استخباراتو اړول اسانه هم نه ده، نږدې سل کلونو کې استخباراتو کې بدلون راوستل کیدی شي.

کله چې مجاهدینو واکې ترلاسه کړې، او د نظار شورا له پرچمیانو سره ائتلافي حکومت جوړ کړ، په دغسې یو حالت کې ددې سوال نه پیداکیږي چې ولې استخبارات په خپل حال پاتې شول، ځکه یو ائتلافي حکومت ؤ، استخباراتو کې پخواني کمونستان په دندو برحاله پاتې و.

داچې طالبانو ولې روس پلوه استخبارات له منځه یو نه وړل او یا یې اصلاحات پکې رانه وستل، هغه وخت کې ټوله توجه مخامخ جګړې ته وه، استخباراتې جګړې ته ډیره اړتیا نه وه، بل داچې د طالبانو مشرانو د استخباراتو اړوند عمیق پوهاوی او یا پاملرنه هم نه درلودله، چې ښه مثال یې دا کیدای شي چې کله کابل طالبانو ونیوی ملاخاکسار یې د استخباراتو مشر وټاکی، چې ډیری طالبان پر هغه بې اعتماده و، مګر بیا هم د څه مودې له پاره هغه د استخباراتو مشر و.

امرالله صالح په خپل وخت کې هڅه کړې ده چې د استخباراتو په جوړښت کې تغییر روالي مګر نه دي توانیدلی، اسدالله خالد دهمدې موخې له پاره د استخباراتو مشر وټاکل شو، ترڅو د استخباراتو جوړښت له روسي سیستم نه امریکایي او بریتانوي سیستم ته واړول شي، او هغه کسان چې لا هم روس پلوه استخباراتو باندې اتکاء لرې کرار کرار د استخباراتو څخه لیرې کړل شي، پرځای یې نوی امریکا او لویدیځ پلوه جاسوسان د استخباراتو په لویو او کښته دندو وګمارل شي.

روسان ځکه وتوانیدل چې د پاچا ظاهر او ولسمشر داوود د وخت لویدیځوال استخباراتي سیستم روسي کړې، یو خو په هغه وخت کې استخباراتو ډیر پرمختګ نه و کړی، بل داچې د پاچا او داوود خان د وخت جاسوسان یې خینې ووژل او نور یې له دندو لیرې کړل، روس پلوه جاسوسان یې په استخباراتو کې ځای په ځای کړل.

د افغانستان د استخباراتو اوسنی شکل چې لا هم په خپل حال پاتې دي د استخباراتو د پخواني مشر امرالله صالح له قوله چې د ببرک کارمل او ډاکټر نجیب د وخت د استخباراتو تګلارې کارول کیږي.

داخبره هم واضیح کول په کار دي چې ببرک او نجیب د روسانو په مرسته او مشوره د هغوې د خوښې د شرق د استخباراتو تګلاره عملي کوله.

د لویدیځو استخباراتو تګلاره تر شرقي استخباراتو نسبتا نرمه او اصولو او مقرراتو ته پابند ده، خو په دومره توپیر سره چې اصول او مقرارت په خپلو هیوادونو کې پلې کوی، د دریمې نړۍ له پاره هیڅ ډول اصول او مقرارت نه مني، ښه بېلګې یې د پاکستان او مصر استخبارات ویلای شو، چې هیڅ ډول اصولو ته پابند نه دي، مګر لویدیځ جوړښت لري.

د امریکا د سي آی اې مامورین د چې په عراق او افغانستان کې کومې ناوړه کړنې له تورنو بندیانو سره وکړې هیڅ ډول اصول اجازه نه ورکوی، خو داچې د دریمې نړۍ هیوادونه دي، نوځکه خو ددې هیوادونو له وګړو سره هر ډول زور، زیاتې او ځورونې ته جواز ورکول کیدی.

په اوسني وخت کې د افغانانو له پاره روسي یا لویدیځ استخباراتي ټګلاره بې توپیره ده، د دواړو بنسټ په درېمه نړۍ کې پر زور، زیاتي او جبر سره ایښودل  شوی، یواځي دومره توپیر دي چې په روسي استخباراتي ټګلاره کې تر نن پوري موږ په افغانستان کې د انسان د عزت پایمالول نه دي لیدلي، پر میرمنو د ا ستخباراتو په پېټځایونو کې جنسي تجاوز نه دی شوی، له نرانو سره لواطت نه دی شوی، خو په مصر او نورو لویدځ پلوه هیوادونو کې چې د لویدیځ استخباراتي ټګلاره مخته وړي، هلته پر میرمنو جنسي تجاوز، له سړیو سره لواطت او ډول ډول د سپکاوي عملونه کیږي. چې په تیرو ۱۳ کلونو کې په امریکایي زندانونو کې افغانان او عراقیان ورسره مخ شوي، او په دي وروستیو کې د مصر د دیکتاتور سي سي د حکومت دغه ناوړه کړنی نړیوالو رسنیو را ا خستي دي.

***یادداشت:***

*همان طوری که بارها تذکار داده ایم، ناگزیریم باز هم بیفزائیم:*

*از نظر مادوران سیاه حاکمیت مزدوران روس یعنی خلق و پرچم را « کمونیستی» دانستن، نه تنها با واقعیت وجودی آن باند های جنایتکار هیچ گونه مناسبتی ندارد، بلکه سطحی نگری و عدم اطلاع مدعی چنان ادعائی را از اساسات «کمونیزم» نیز می رساند.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*